**بسم الله الرحمن الرحیم**

## څوک چې د اسلام پر ضد جنګېږي، هغوی د مضرو دولتونو راتلونکی خوندي کوي!

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**لا ضرر ولا ضرار**» (رواه ابن ماجه او دارالقطني)

**ژباړه:** *په اسلام کې ځان او نورو ته ضرر رسول نشته دي.*

د "لا ضرر و لا ضرار" لویه قاعده؛ د اسلام یوه غښتلې قاعده، یو قوي حکم او یوه بشپړه اخلاقي مبدأ ده؛ دا د هغو کسانو د نېکمرغۍ لامل کېږي، چې عمل پرې کوي او ورته ژمن وي. دا هغه لاره ده چې خپل لارویان د امنیت ساحل ته رسوي. دا قاعده چې باید په سرو زرو ولیکل شي، اوس زموږ په ژوند کې عملي اړخ نه لري؛ ځکه کله چې ناوړه پانګوال نظام زموږ پر ټولنو برید وکړ، ډېری مسلمانانو دغه قاعده پرېښوده. له همدې امله ځینې کسان هغه زیان او ضرر ته پام نه کوي، چې خپلو مسلمانو وروڼو ته یې رسوي. ځینې وخت خپل مسلمان ورور ته ښکنځلې کوي، سپکاوی یې کوي؛ وهي او ډبوي یې او ان ژوند یې اخلي. مثلاً؛ که نن ورځ مجازي نړۍ ته وګورو، سختې ښکنځلې او سپکاوي او په زیاته کچه هغه ناوړه الفاظ پکې وینو، چې د انسان روح او روان یې زغم نه لري او په دغې مجازي نړۍ کې داسې الفاظ او کلمې ښکته پورته کېږي، چې د انسان ګوتې یې له لیکلو څخه عاجزې دي.

هر څوک چې د اسلام پر ضد مبارزه کوي، په حقیقت کې د دغې قاعدې او افکارو پر ضد مبارزه کوي. څوک چې د اسلام پر وړاندې جنګېږي، په حقیقت کې غواړي چې ظلم او ضرر پر نړۍ حاکم وي او پانګوال نظام دوام وکړي؛ ځکه د خپلو ګټو لپاره یې ښه حاصل ورکوونکی ځای دی. څوک چې د اسلام پر ضد مبارزه کوي، په حقیقت کې غواړي چې تیاره پر رڼا، باطل پر حق او ظلم پر عدل غالب شي. څوک چې د اسلام پر ضد جنګېږي، په حقیقت کې هڅه کوي چې پر اسلامي خاورو حاکم دولتونه، یعنې "مضر دولتونه" دوام وکړي او حق دولت، یعنې "خلافت دولت" بېرته رانه شي.

اې ربه! موږ د نبوت پر منهج دویم راشده خلافت ته، چې په مرسته یې ګډوډې او بې‌اتفاقي پای ته رسېږي، ورسوه او مصیبت راڅخه لرې کړه. اې ربه! د خپل کریم نور په واسطه ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړن: صهیب منصور**